مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

لیکوالان: ډاکټر محمد حسین پاپلي یزدي
او ډاکټر فاطمه وثوقي
پښتو ژباړه: ع. ا . نجات

۲۰۲۱/۱۱/۳۰

# لویه تلوسه

## څوارلسمه برخه

**د اوبو بین المللی قوانین**

**دوهمه برخه**

**دویم فصل**

### د فرات ـ دجلې او اروند رود حوضې ډیپلماسی لپاره وړاندیز کیږي:

د دجلې او فرات کنوانسیون ته رسېدو لپاره چې دوه جوړښتونه ولري دجلې او فرات کاري ډلې یا نړیوال کمیسیون تر نامه لاندې نړیوال جوړښت رامنځ ته کولو په لور حرکت وکړو:

۱ ـ اصلي جوړښت د ذینفع هیوادونو په ګډون: ترکیه، سوریه، عراق او ایران

۲ ـ فرعي جوړښت د ذی مدخل هیوادونو په شمول: ترکیه ،سوریه،عراق،ایران اردن ،کویټ ،سعودي عربستان .

ذینفع خواوی ــ ملګروملتونوسازمان

ترکیه ــ سوریه ــ عراق ــ ایران

د بین النهرین حوزی کارډله

د بین النهرین کنوانسیون

د ملګرو ملتونو سازمان

ذینفعه خواوي ــ ذی مدخله خواوي

ترکیه ــ سوریه ــ عراق ــ ایران ــ اردن ــ کویټ ــ سعودي عربستان


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولۍ

باید په پام کې ولرو چې د انقرې ۵۸ شمېره قرارداد د ترکیې او عراق ترمنځ د ۱۹۴۶ د مارچ ۲۹ مه لاسلیک شوَی او د ۱۹۴۹ د سپتامبر په ۱۵ مه د ملګرو ملتونو سازمان په دفتر کې راجستر شوَی دَی. د دی قرارداد (تړون) په ۶ بند کې یو ۶ ماده ای پروتوکول تعریف شوَی دَی چې ۱ ماده یې په دجلې او فرات پورې تړاو لري. پدې اساس ترکان او عراقیان نړیوالې دوهمې جګړې او د ملګرو ملتونو سازمان له تشکیلیدو وروسته په لومړیو کلونو کې د دجلې او فرات پر سر یوبل سره قرارداد لري.

په اروپایې ټولنه کې د ترکیې د ګډون په صورت کې دغه هیواد د اروپا د اوبو مدیریتي چوکاټ (WFD) لاندې راځي، چې ټولنې له لورې د ۲۰۰۰ میلادی کال په ډسامبر کې تصویب شوی دی.. (WFD) له غړو هیوادونو څخه غواړي د ټولنې(اتحادیې) د ګډ پولیزی اوبو د سرچینو په مدیریت کې د اتحادیې له ټولو غړو هیوادونو او علاقې وړ لوریو سره همکاري وکړي. (SIWI.2004) (۱۷) لنډه داچې ترکیه باید پاسنی (WFD) هوکړې لاندې د دجلې فرات او سط العرب حوضې یوه قرارداد ترولو لپاره خپلې خبرې پیل کړي. اړینه ده چې ترکیه. کم له کمه د فرات پاسه د بند جوړولو پروژو په اجراکولو کې (د GAP پروژه یا جنوب ختیځ اناتولی پروژه) د عراق او سوریې رضایت ترلاسه کړي. دغه مسئله د عراق بیا رغونې په لاره کې مطرح دی. دغه غوښتنه په اوږدمهال کې کرهنې له لارې د عراق اقتصادي پراختیا په پروژو کې د اوبو تامینولو لپاره دَی. امریکا به د عراق د بیا رغونې په خاطر د اوبو تامینولو لپاره هلې ځلې وکړي ،څو د دجلې فرات او شط العرب په اوبیزه حوضه کې د ترکیې، سوریې او عراق دریواړو هیوادونو ترمنځ د اوبو ویش یو رسمي هوکړه لیک ولیکل شي. ترکیه به اروپایي ټولنه کې خپل غړیتوب لپاره دی ته لېوال وي نړیواله لازمه همکاري او د اوبو کیفی ښه والئ د خپل کار مخې ته کیږدي او دغه موخې به هغه انګیزه وي څو د یوه څو اړخیز هوکړه لیک په لاسلیکولو کې سوریې او عراق سره هوکړې ته ورسیږي(SIWI.2004). په تېره بیا په ترکیه کې د GAP پروژې په تړاو چې د دجلې او فرات د اوبو کیفیت به، د سوریې او عراق د اداعا له مخې، بدلون وموي.(SETA.2008) .

۱۷ - (The Stockholm International Water Institute)

د دې مسئلې د نا رضایتَی اساس چې د دریو هیوادونو ترمنځ د دجلې او فرات د سیندونو اوبه څنګه وویشل شي د اوبو د ویش پر سر د یوه درې اړخیز جوړجاړی (تفاهم) نشتوالی دَی. ترکیه لیوال دَی د اوبو په نویوال قانون کې برابر ویش اصل ته په کتو سره په هماغه ډول چې ګروئن( SETA.2008) ښودلی دَی له دجلې او فرات سیندونو څخه د دریو هیوادونو تر منځ د اوبو ونده ویش په لاندی طریقی (روش - متود) وتاکي:

«ترکیه فرات رود منځ پولیزرود(منځپوله) ګڼي او د فرات سیند پر اوبو د خپل حاکمیت حق تر هغه ځایه چې د سوریې د پولې په اوږدو کې بهیږي په انحصاري توګه محفوظ ګڼي. یوازی له هغه ځایه به چې فرات سیند د عراق په کوزنی برخه کې دجلی سیند ته رسیږي او شط العرب جوړوي او د ایران او عراق د پولې په عنوان شمېرل کیږي، نړیوال سیند و ګڼل شي»

ترکیه، سوریه او عراق یوې داسې هوکړې ته رسیدلي دي چې د اوبو پر سر اختلافونه د « اوبو موسسې» له لارې چې د دریواړه هیوادونو کارپوهان به پکښې ګډون ولري، وپلټي او یوې وروستی هوکړې ته تر رسیدو پورې هغه تعقیب کړي. په پام کې ده چې دغه موسسه، د اتاترک بند تسهیلاتي مطالعات، چې د ترکیې تر ټولو لوی بند دَی، د پولې ګډو اوبو(دپولې ګډو اوبو) سرچینو د پاسه نورې پرختیایي طرحې د اغیزمنې او عادلانه ګټې اخیستو لپاره ترسره کړي. د دریو هیوادونو ترمنځ د اړیکې دغه نویتوب(تجدید) سبب شوَی چې دجلې رود د پاسه د ایلې بند او همدغه راز په آسې رود باندې د آسی بند جوړونه چې لبنان څخه سرچینه اخلي ، اسانه شي.

ترکیه او سوریه هم څو قراردادونه لري په دغو جوړښتونو کې د ایران شاملیدنه څه آسان کار ندَی. بهرنیو چارو وزارت باید دې مسئلې لپاره حقوقپوه، قانونپوه او اوبه پیژندونکې ماهرین وګماري. باید زیار وباسو په کنوانسیون کې سره بنکیل لوري څلور اصلي هیوادونه وي او تر ممکنه بریده د نورو هیوادونو یا په اصطلاح د ذی مدخل هېوادونو او یا د هغه هیوادونو پښه، چې دجلې او فرات اوبو ته یې سترګې سرې کړې دي کنواسیون ته لاره ورنکړي. سربېره پر دې د حوضې څلورو اصلي هیوادونو په ډله کې د اردن- عربستان او کویټ هیوادونو حضور به د ټولګې د عربي هیوادونو له حده د زیاتې څواکمنتیا لامل شي.او هوکړی ته د رسیدنې کار به له لا ډېرو ستونځو سره مخامخ کړي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ډیپلماتیک نظره په بین النهرین حوضه کي د دوړو او خاورو له خپرېدو (پراخیدو) مخکې، یاني په ۲۰۰۸ کال کې، ایران له سلو کلونو څخه په اوږده موده کې یوازې د حوضې په ښکتنی برخه یاني په اروند رود یا شط العرب کې ښکېل ؤ او نورو برخو کې يې څه کار نه درلود، یا ښکیلو هیوادونو ایران لوبی ته نه ده راښکلَی. البته د عثماني(ترکېې) له ورانیدو مخکې په ټوله حوضه کې د ایران مقابل لورَی، عثماني دولت ؤ او مونږ عثماني دولت او بیا عراق سره یوازې په اروند رود کې ښکېل وو.

بایده ده چې په رغښتیزه او اصولي توګه د بین النهرین حوضې دځلورو هیوادونو برخه واوسو. او اجازه ورنکړو چې ترکان، سوریيان او عراقیان زمونږ له شتون پرته د دجلې او فرات اوبو په سر کومو هوکړو ته ورسیږي یا له اوسني وضعې په نورو زیاتو هوکړه وکړي او یا عراقیان او سوریایان زمونږ له حضور او اجازې پرته او مونږ ته د اوبو وندېپې په پام کې نېولو پرته، اوبه خپلو عرب ګاوندیانو ته ورکړي (اردن،عربستان او کویټ او.. پرېږدي.). او یا ان فرات او دجلې څخه کومي اوبه د کرکیلي له سنتي محدودې د باندې ولیږدوي.

په هر صورت لاندې موارد اړین بلل کیږي:

| |
|---|
| ۱ - له څلورو اصلي هیوادونو څخه د یوې فعالي کاري ډلې درلودل |
| - - بند جوړولو سره اړوند مسلې<br>- - د اوبو ترلاسه کول( برداشت) او د هر هیواد د اوبېرخې د ونډې ټاکل<br>- - د اوبېرخې د کار اخیستو ترتیب (آیا اوبو برخه به بل هېواد ته د پېرودو وړ وي؟)<br><br>- هغو ځمکو څخه بهر ته د اوبو لیږدونه چې په سنتي توګه د دغه سیند له اوبو پېیدلې - (خړوبیدلې) (ثقلي یا پمپاژ)<br>- - حوضې څخه د باندی د اوبو لیږدونه<br><br>۲ - **د یوه کنوانسیون** - د ژوند چاپېریال اوبېرخې ټاکل<br>**او معاهدې درلودل** - د اوبېونډونو(تالاو)، نهایی حد اوحدودو او ډنډونو د وچېدنې کره تکلیفونو ټاکنه ده .<br>**چې ټولې چارې هلته ولېدل شي لکه:** - د ژوند چاپېریال د نورو مسلو ټاکنه ککړتیاوې چې کرنیزو، صنعتي فعالیتونو<br>او ښاري فاضلابو او... رامنځ ته کیږې : بیړَی چلونې سره اړوند مسلې<br>- د وربځو د بډاینې مسله چې په حوضه اغیزه لري<br>- د رودونو د بستر بدلون، استنادي دیوالونه او تخریب (فرسایش)<br><br>۳ - د رودونو د خړو پاکول او د دیوالونو ساتنه په هغه ځایونو کې چې سیندونه (رودونه) د ځنګ ته پرتو ځمکو په نسبت لوړ شوي دي. |
| ۴ - نورې چارې |
| |

د ایران د مجلس، دولت، د بهرنیو چارو وزارت، د انرژی وزارت، د ژوندچاپیریال سازمان، د هوا پیژندني سازمان او... دنده لري چې په جدي توګه ځان دجلې او فرات او اروند رود په مسله کې را ښکیل کړي.

د سویډن دولت د SIDA تر اداری لاندې د دجلې او فرات سیمې د پولي آخوا اوبو د پراختیا پروګرامونه (پراوونه) دایر کړي دي. د ایران استازی هم ۲۰۱۱ کال تر می میاشتې پورې په دوو پروګرامونو کې ګډون کړَی دَی. پدې پروګرام کې د ترکېې – سورېې- عراق او ایران څلورو هیوادونو مشارکت درلود. کله چې سویډنیان د دجلې او فرات



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

حوضي د ځلورو شريکو هيوادونو پلانونه لري ايا مونږ پخپله ځلور هيوادونه لازمه نده چي د مناسب جوړښت رامنځ ته کولو فکر ولرو چي د ټولو ګډونوالو د اوبو اړيکي مشخصي کړي ؟ بايد هر ځومره ژر لازم جوړښتونه جوړ کړو.

## ارس حوضي هيوادونو سره د اوبو ډيپلماسي

شايد د پوليزو سيندونو تر ټولو ښه او بشپړ کنوانسيون دا مهال د ارس رودخاني په اړه ولرو. خو همدا کنوانسيون د خدا آفرين بند په هکله عيبونه لري. آذربايجان دولت سره بايد د خدا آفرين بند مسله سپينه (مشخصه) شي. د کورا- ارس رود حوضه يوه نړيواله حوضه ده چي په جنوبی ققفاز کي واقع شوي ده. د حوضي ټوله سطحه ۱۸۸۵۰۰ کيلومتر مربع مشاحت لري. پنځه هيوادونه - ترکيه، ايران، ارمنستان، ګرجستان او آذربايجان هر يو يې په جلا جلا د اوبو بهيير په بستر(آبريز) کي ونډه لري. د اوبو توپيدو بستر حوضي کي د دي پنځو هيوادونو سلنه عبارت دي : ګرجستان ٪۱۸ ارمنستان ٪۱۶ آذربايجان ٪۳۱ ايران ٪۲۰،۵ او ترکيه کابو ٪۱۴ ( UNDP.2007) .

د ارس رود سرچينه په ترکيه کي ده. ارس رود په ترکيه کي د ننه مخ په ختيځ لوري کي ارمنستان پولي ته رسيږي او بياوروسته آذربايجان ته له رسيدو مخکي د ايران او ارمنستان په خاوره کي بهيږي. د ارس رود اوږدوالی کابو ۱۰۷۲ کيلو متره دَی او هره ثانيه کي د رود د تشيدو/ دب منځنی حد ۲۱۰ مترمکعب ده. (CEO.2003). په ترکيه، ارمنستان کي او د ارمنستان په خاوره کي د ننه ګني ځانګي او ښاخونه ارس سره يو ځای کيږي. له دغه ښاخونو ډېر مهم يې کاراهان،آخوريان(ترکي ژبه کي آپراچای) او هرزدان دي. دغو سرښاخونو باندې زيات شمېر بندونه تړل شوي دي . لدي ډلي ترکانو لخوا آپراچای بند چي په ۱۹۸۳بشپړ شوَی دَی او ۴۰۵۰۰ هکتاره ځمکه پنوي. ظرفيت يې کابو ۵۲۵ مليون مترمکعب او د مخزن مساحت يې کابو ۴۲۰۰ هکتاره دی. ۲۲ کيلومتر مربع مساحت يې په ارمنستان کي واقع شوي د آرپي(ARPI) بحيره چي سمندر ځخه د ۲۰۲۰ متره لوړوالی په لرلو سره ډېره ښکلي بحيره دی او په منځنی توګه کابو ۵ متره ژوروالی لري او د آخوريان رود د سرچينو يوه سرچينه ده. دغه بحيره ۱۹۹۳ کال کي د رامسر کنوانسيون په لِست کي راجستر شوي او د ۲۰۰۹ په اپريل کي ملي پارک اعلام شوي ده. د ارس پر سرښاخونو باندی نور بندونه هم موجود دي.

نوربيا

**د ارس رود حوضه**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ